# ډېنګ ماما او زانه بي بي

جبه چقړې زمکې ته وائي. په دغې کښې ونې نهٔ وي. ګیاه او جاښې ماښې غوندې بوټې وي. چیندخې، وړې چرچنې، شمشتۍ، ماران او نور دغسې څیزونه پکښې ګرځي. دا د زانو او ډېنګانو په شان د مارغانو خوراک دے. ځکه چې دا مارغان هم په دغه جبو کښې، یا د دې خوا و شا وسیږي.

د یو دریاب خوا ته یوه ډېره غټه جبه وه. د دغه جبې یو سر ته ډېنګ ماما وسېدهٔ. او بل سر ته ئې د زانې بي بي کور وهٔ. په دغه ختو متو کښې به دواړو ته د خوراک ډېر شیئان په لاس ورتله. لکه چیندخې، واړهٔ واړهٔ ماران ،کچې پچې شمشمتۍ او داسې نور.

یوه ورځ ډېنګ په خپله اوږدهٔ مښوکه درې چیندخې، یو وړوکے مار او یوه کچه شمشتۍ په جبه کښې را ونیول. د سلادو دپاره ئې لږه ګیاه هم را وشوکوله.

کله چې دا خوندوره ډوډۍ هغه خپلې مخې ته کېښوده نو زړهٔ کښې ئې دا خیال راغے "څهٔ زبردسته ډوډۍ ده. څومره خوند به ئې کړے وے چې یو ملګرے مېلمه راسره وے.د ملګري سره به ډوډۍ زیات خوند کړے وهٔ."او دغه وخت ډېنګ سوچ وکړهٔ "ما لهٔ وادهٔ کول پکار دي بیا به زهٔ یواځې نهٔ یم".

په دویمه ورځ سحر وختي ډېنګ ماما د زانې بي بي کور ته لاړهٔ. هغې ته ئې غږ وکړهٔ "زانې بي بي تاسو په کور یئ؟"

" هاؤ جي زۀ په کور يم. څۀ کار دے؟"زانې بي بي د ور لرې کولو سره تپوس وکړۀ.

" زانې بي بي مونږ دواړه په دې جبه کښې وسيږو خو د يو بل نه لرې.مونږ وادۀ ولې نۀ کوو. دغسې به مونږ يواځې پاتې نۀ شو. "

زانې بي بي ډينګ ماما ته لاندې باندې وکتل او وئې وئيل"ډينګ صېب! يو خو تۀ ګنجے يې دويمه دا چې کله تۀ الوځې نو ستا څټ لکه د غشي په شان نېغ او راښکلے وي. دا څيزونه زما نۀ دي خوښ. ځکه زۀ ستا سره وادۀ کولو ته تياره نۀ يم. "او د دې وئيلو سره زانې بي بي دروازه په درز بنده کړه. دا کار په ډينګ ماما ډېر بد ولګېدۀ او خپل کور ته لاړۀ.

اوس دا هم واورئ، د ډينګ ماما د تلو نه پس ړانې بي بي سوچ وکړۀ"ډينګ دومره بد رنګه خو نۀ دے او دا خبره هم روغه ده چې که چرې د هغه سره وادۀ وکړمه نو يواځېوالے به مې ختم شي. "

د دې سوچ نه پس ړانې بي بي په سبا له د ډينګ ماما په کور ورغله.

ډينګ صېب! تاسو په کور يئ؟"دې غږ وکړۀ".

"ډينګ مامايو منټ دوه پس جواب ورکړۀ "هاؤ،يم، څۀ کار دے؟

زانې بي بي ووئيل"تا روغه خبره کړې وه که چرې مونږ وادۀ وکړو نو يواځېوالے به مو ختم شي. هسې هم ستا مښوکه اوږدۀ او تېره ده. زما دغسې مښوکې خوښې وي".

د دننه نه د ډینګ اواز راغےٍ"تاسو لاړ شئ زانې بي بي. زهٔ تاسو سره وادهٔ نهٔ کول غواړم."

زانې بي بي مات زړهٔ کور ته بېرته لاړه. شرم هم ډېر ورغلے وهٔ او غصه هم."هاې زهٔ ولې د دغه بې مخه ډینګ خوا له لاړمه؟"دې سوچ وکړهٔ.

خو د دې د بېرته تلو نه پس ډینګ ماما په سوچ کښې پرېوت "هغه خواره زما پخلا کولو لهٔ زما کور ته راغلې وه خو ما هسې ځان نبغ کړے وهٔ. هغه دومره بده خو نهٔ ده. د مشرانو نه مو اورېدلي دي چې د سحر ورک که ماښام کور ته راشي نو ورک نهٔ دے."

ډینګ ماما یوځل بیا د زانې بي بي کور ته لاړهٔ "زانې بي بي، زانې بي بي"هغه ډېر په خوږ پوست اواز کښې غږ وکړهٔ.

" څهٔ کار دے؟ زهٔ تا سره خبرې نهٔ کووم. ورکېږه د دلته نه". زانې بي بي په غصه کښې چغه کړه. "تهٔ که ما لهٔ لس زره چیندخې هم راوړې نو هم زهٔ ستا سره وادهٔ کولو ته تیاره نهٔ یم."

ډینګ ماما په ویره د هلته نه والوتهٔ.

د دې نه پس زانې بي بي د تېر ځل په شان بیا په انکار پښېمانه شوه.او هغه یو ځل بیا د ډینګ ماما کور ته لاړهٔ. او ډینګ یو ځل بیا د هغې سره د وادهٔ نه منکر شهٔ. او دغه رنګ دغه وادهٔ ونهٔ شهٔ. د ږانې بي بي او د ډینګ ماما چېرې هم په خپلو کښې وادهٔ و نهٔ شهٔ. خو زانې بي بي ته یو نر زانے راغلو د وادهٔ خواست ئې ورته وکړهٔ او زانې بي بي په خوشحالۍ قبول کړهٔ.

دغه رنګ ډینګ ماما ته هم یوه ډینګه بي بي په لاس ورغله او ډینګ ماما هغه خپله ناوې کړه. ورو ورو د دې دواړۀ جوړو بچي زیاتېدل. د جبې خوا وشا د ډینګانو او د زاڼو ابادي زیاتېده. د هغه وخت نه واخله تر ننه پورې چا زاڼې د چا ډینګ سره وادۀ و نۀ کړۀ بلکې هر ځناور د خپل نسل ځناور خپل د ژوند ملګرے جوړوي.

**یو پخوانی قیصه په نوي رنګ--آمنه اظفر**

**ژباړه: ډاکټر اباسین یوسفزے**

KAHANI CHAMAN
کہانی چمن